**تاجکستان دولت خپلو هغو پوله ساتو ته چې د افغانستان اوسېدونکي وژني، ترفیع ورکوي**



(ژباړه)

**خبر:**

د تاجکستان پوله ساتو ځواکونو د افغانستان دوه تنه اوسېدونکي د بدخشان ولایت په اسکشمین ولسوالۍ کې اعدام کړل. د ۲۰۱۷م د نومبر پر ۹مه د افغانستان پژواک خبري رسنۍ خبر ورکړ، چې د تاجکستان مرزي پولیسو د افغانستان دوه تنه غیر نظامیان اعدام کړل. د یادې سرچینې په وینا: «د افغانستان پوله ساتي ظابط پولیس د «پژواک» خبري رسنۍ ته وویل: د تاجکستان پوله ساتو تر اوسه د دوو افغانانو د وژنې دلیل نه دی روښانه کړی.»

پژواک خبري رسنۍ زیاتوي: د وژل شوو له ډلې څخه د یوه تن جنازه د بنگ په رودخانه کې موندل شوې او د بل جنازه لا تر اوسه نادرکه ده. د بشري حقونو افغانی فعال طالب الدین قادري وایي: «په دې وروستیو کلونو کې د اسکشمین ولسوالۍ سیمو ته څېرمه ډېر بې گناه افغانان او د دې سیمې اوسېدونکي د تاجکستان مرزي پولیسو له لوري وژل شوي دي.

د تاجکستان دولت خپل مرزي پولیس د ترفیع په رتبو نازوي او د تاجکستان مرزي پولیس هم د خپلو رتبو د ستورو زیاتولو لپاره د افغانانو پر وژنه هېڅ بسنه نه کوي. کابل او دوشنبې په دې اړه چپ دي او تر اوسه یې کوم رسمي نظر نه دی څرگند کړی.»

(سرچینه: بایوم)

**تبصره:**

چا دا خيالي پولې د اسلامي خاورو ترمنځ رسم کړي؟ چا پوله ساتو ته د (وطنپالنې) درس ورکړی، پر پولو تېرى (مورنۍ خاورې ته گواښ) بولي او مرزي ساتونکو ته وايي، چې د اړتيا پرمهال له ځنډ پرته پر تيري کوونکو ډزې وکړي؟

هغه څوک، چې د غربي استعمار له « نفاق واچوه او حکومت وکړه» شعاره ډېر زيانمن شوي، له شک پرته اسلامي امت دی؛ مسلمانان د غربي استعمار په مرسته د شلمې پېړۍ له لومړيو کلونو راهيسې د استعماري دولتونو تر بريدونو لاندې راغلل- د وروستي خلافت د له منځه تلو په کلونو کې- چې تر اوسه هم دوام لري، اسلامي هېوادونه، چې تر ۵۰ برخو زيات ټوټې شول، ځينې يې د استعمارگرو لخوا اداره کېږي او ځينې نور يې بيا د استعمارگرو لپاره د جگړې پر ميدان بدل شوي.

د اروپايي، امريکايي او کاناډايي مرزونو اسانتياوې دا موضوع په ډاگه کوي، چې کفارو د مرزونو ستونزې يوازې د مسلمانانو لپاره جوړې کړې دي؛ ځکه، چې دا موضوع يې د مسلمانانو د جدا کولو لپاره تر ټولو ښه لاره موندلې ده.

**ليکوال: مراد ازبيک(ابومصعب)**

**۱۴۳۹هـ.ق، د صفر۲۷مه**

**۲۰۱۷م، د نومبر۱٦مه**

**ژباړن: حبيب الله**